نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۶/۰۷/۲۶

# پاکستان کې افغان مهاجر د څلور اړخیزو ناستو او ډیورنډ قرباني

د جولای پر ۱۴مه نیټه افغان رسنیو کې د پاکستان اړوند خبرونه وو، په همدې ورځ د پاکستان اړوند درې مهم خبرونه نشر شوو، دا چې پاکستان د طالبانو د قطر دفتر پر مشر او غړو فشار راوړی چې په څلور اړخیزو ناستو کې به په اسلام اباد کې ګډون کوي، دویم خبر د ملي امنیت د پخواني مشر رحمت الله نبیل لخوا د پاکستان د لاسوهنو اړوند اسناد او دریم هم په ډیورنډ لیکه او ځانګړي ډول تورخم کې د پاکستان لخوا دروازه او تاسیساتو جوړولو خبرونه خپاره شول.
د تورخم دروازې پر سر له جګړې وروسته د پاکستان د حکومت لخوا په کمیسارۍ ډول افغان مهاجر تر فشار لاندې راوستل شوي، او افغان مهاجر ځورول کیږي.
هغه افغان مهاجر چې قانوني د مهاجرت اسناد او هغه افغانان چې د افغانستان رسمي پاسپورټ له ځان سره لري، له هغوی څخه هم د خیبر پښتونخوا پولیس رشوت غواړي، که وریې نه کړي، نو زندان ته یې وړي، په تیره یوه میاشت کې ډیر زیات افغانان د راپورونو پر اساس د پاکستاني پولیسو لخوا یا خو بندیان شوي او یا هم ځورول شوي دي.

## ناکامه څلور اړخیزې ناستې او پر طالبانو د پاکستان فشار:

د ځینو راپورونو پر بناء چې پاکستان هغه وخت پر طالبانو د زیات فشار راوستلو هڅه کړې چې کله د نړیوالو لخوا پرې شک وشو چې په تیرو څلور اړخیزو ناستو کې ونه توانیدی چې د ژمنو سره سم طالبان د سولې مذاکراتو ته اسلام آباد کې حاضر کړي.
نتیجه دا شوه چې کله پاکستان تر زیات فشار لاندی راغی، امریکا ته یې راپور ورکړ چې د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور د سولې د خبرو مخالف دی، همههغه و چې امریکا د طالبانو پر مشر برید وکړ او هغه یې له منځه یووړ.
د سولې خبرې له بن بست سره مخ شوې، د طالبانو د مشر ملااخترمحمد منصور تر مرګ وروسته د سولې هیڅ ډول هڅې او کوشش نه دی حس شوی، هر څه په ټپه ولاړ دي.
دا چې د امریکا پلان به وي چې په سیمه کې د پاکستان په پرتله نور هند نفوذ وکړي، او پاکستان له انزواء سره مخ شي، پاکستان هڅه کوي چې د خپلې انزواء مخه ونیسي.
په کورنیو او سیمیزو رسنیو کې مخکې ورځو کې ویل شوي چې پاکستاني لوړ پوړو چارواکو قطر هیواد ته سفرونه کړي او له طالبانو څخه یې په کلکه غوښتنه کړي چې د افغان حکومت سره د ناکامه څلوراړخیزو ناستو په تسلسل کې داخل مخامخ خبرو ته حاضر شي.
داچې پر طالبانو باندې د پاکستان د فشار خبرونه بیا هم په کورنیو رسنیو کې خپاره شول، داسې بریښي چې افغان حکومت پر پاکستان بې باوره دی، او د جولای پر ۱۴مه نیټه د ولسمشر مرستیال وياند وویل چې موږ نور د څلور اړخیزو ناستو اړوند کومه اجنډا نه لرو، او نه هم د سولې د مذاکراتو اړوند معلومات ورسره پاکستان شریک کړي، ولې دا چې خبر نشر کیږي، فکر کیږي چې پاکستان به افغان حکومت ته وخت په وخت معلومات ورکړی وي چې دوی لاهم هڅه کوي تر څو طالبان مذاکراتو ته چمتو کړي.

## د پاکستان له انزواء څخه د وتلو هڅې:

ځینې شنونکي وايي کله چې امریکا وايي چې افغانان باید خپلو منځو کې سره کیني او د سولې خبرې وکړي، او بیا د طالبانو مشر ملااخترمحمد منصور د پاکستان په غوښتنه په نښه کوي، هغه وژني، دلته سوال پیدا کیږي که ستونزه له امریکا سره نه وي، نو بیا ولې د طالبانو مشر په دې دلیل په نښه کوي چې له افغان حکومت سره خبرو ته نه کښیني.
بیا خو په کار ده چې طالب او افغان حکومت سره پریږدي دوی (امریکا او نړیواله ټولنه) د افغانانو له وژلو او نیولو څخه لاس واخلي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

همدا رنګه امریکا ته په کار ده چي مخامخ له طالبانو سره خبرو ته کيني، تر څو امريکا ځان دريم ګړي وګڼي، د سولي هڅي به دا ډول ناکامه وي لکه له اسلامي حزب سره د افغان حکومت د سولي مذاکرات چي خپله په کور دننه افغان جهت ناکام کړل.
پاکستان يوځل بيا غواړي د ناکامو څلور اړخيزو ناستو تسلسل را ژوندی کړي، هغوی غواړي يو ځل بيا افغان حکومت او نړيوال وغولوي تر څو له انزواء څخه ځان خلاص، د امريکا او نړيوالو اعتماد بيرته حاصل کړي.
داسي راپورونه ورکول شوي چي د جولای پر ۲۶مه نيټه به لوړ پوړي پاکستاني چاروکي کابل ته راځي، دلته به له ولسمشر او افغان چاروکو سره ليدني کتني کوي .
د چين هيواد له پاکستان سره نږدي او ښې اړيکي لري، دا ډول چين هيواد له طالبانو سره مسلسل ناستي او ښې اړيکي پالي، ورته وخت کي له افغان حکومت سره هم د ښو اړيکو لرونکی هيواد دی.
د دې لپاره چي پاکستان له انزواء څخه د خلاصيدو هڅي کوي، ممکن له چين هيواد څخه به يې د مرستي غوښتنه کړي وي، چين چي له يادو دريو لورو سره ښې اړيکي لري او د څلور اړخيزو ناستو پيل هم د پاکستان او چين په هڅو شوی وو، اوس به بيا ځل پاکستان همدا لوبه تکراروي، د څلور اړخيزو ناستو د دوام غوښتنه به کوي، له چين څخه به هم غواړي چي پر طالبانو او افغان حکومت له خپل اثر او رسوخ څخه کار واخلي او څلور اړخيزو ناستو ته زمينه برابره کړي، ترڅو پاکستان خپل اهداف تر لاسه کړي.
که پاکستان په رښتوني ډول د افغانستان د سولي د خبرو ملاتړ وکړي، که څلور اړخيزه ناستي وي يا په کوم بل هيواد کي د طالبانو سره د افغان حکومت ناستي وشي، دا به د سولي اړوند يو ښه پرمختګ وي، ولي د پاکستان د سولي پروژي او اهدافو اړوند فکر کيږي چي طالبان او افغان حکومت، په اوس وخت کي نړيوال هم بي باوره ښکاري.
که چيرته د طالبانو او چين چاروکو ترمنځ د دوه اړخيزو ناستو په تسلسل که د طالبانو او پاکستاني چاروکو ليدني په کوم هيواد کي شوي وي او يا له دي وروسته وشي، داځل به بيا هم د تير په څير پاکستاني چاروکي د هر ډول ناستو څخه د خپلو ګټو او موخو ته د رسيدو لپاره کار اخلي.
د طالبانو او چين هيواد د نږدي او ښو اړيکو څخه په ګټه اخيستنه به داځل بيا پاکستان هڅه کوي، لکه په تيرو وختونو کي چي هر ډول ناسته په خپله ګټه وڅرخوي، بيا ځل به افغان چاروکو ته وعدې ورکوي چي دوی طالبان چمتو کړي چي له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته کښيني، او د امتيازاتو غوښتنه به کوي.

## پاکستان د سولي تر نامه لاندې ډيورنډ غواړي:

د تيرو څلور اړخيزو ناستو په جريان کي پرته له شکه پاکستان له افغانستان څخه امتيازات ترلاسه کړل، چي يو هم يکي په تورخم کي تاسيسات او دروازه ده، همدا ډول د ډيورنډ پرکرښه ۶ نور ځايونه د پاکستان تاسيسات او دروازي يادولای شو. دا چي د پردي تر شا به افغان حکومت د سولي په نوم پاکستان ته کوم نور امتيازات ورکړي وي، دا به هم تاريخ او وخت هر څه يوه ورځ روښانه کړي.
دوه ځله طالبانو د افغان مهاجرو او ډيورنډ کرښي مسئله له پاکستان سره په سختو او روښانه ټکو کي مطرح کړي، يوځل چي کله د طالبانو د قطر دفتر دوه غړي مولوي جان محمد مدني او مولوي شهاب الدين دلاور تيراپريل مياشت کي پاکستان ته راغلي وو، له پاکستان څخه يې په کلکه غوښتي و چي د افغان مهاجرو سره په چلند کي مثبت تغير راولي، او دا ډول د ډيورنډ پر کرښه له تاسيساتو څخه ډډه وکړي، په ځانګړي ډول د انګور اډې په دروازه او تاسيساتو ډير بحث شوی وو، چي وروسته بيا انګوراډه دروازه افغان حکومت ته د پاکستان لخوا رسما وسپارل شوه، خو تاسيسات لا هم د افغان حکومت د کمزوري مديريت له کبله همداسي پاتي دي.
ويل کيږي چي د رواني مياشتي په نيمايي کي د دويم ځل له پاره د طالبانو استازو له پاکستاني چاروکو سره د افغان مهاجرو پر موضوع اوږدې خبري کړي، او له پاکستان څخه يي غوښتي چي د افغان مهاجرو ځورول ودروي، ويل کيږي چي طالبانو به ډير واضح پاکستاني چاروکو ته ويلي وي چي د افغان مهاجرو ځورول او د هغوی سره بد چلند د زغم وړ نه دی.
برعکس داسي راپورونه ورکول شوي چي افغان حکومت پاکستاني چاروکو ته په وارو وارو ويلي چي افغان مهاجر تر فشار لاندي راولي او هغوی اړ کړي چي افغانستان ته راکډه شي، تر څو د افغان مهاجرو په پنډغالو کي د طالبانو لپاره خوندي ځايونه له منځه يوړل شي. د افغان حکومت کډوالو چارو وزير باندي نيوکه کيږي چي په پټه له پاکستان سره د افغان مهاجرو په ځورولو راضي دی.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

دا چې د طالبانو مشر د سولې خبرو ځلور اړخیزو ناستو کې د نه حاضریدو له کبله د پاکستان د راپورونو پر اساس امریکا تر برید لاندې راوستي، هغه یې ووژاه، اوس به د طالبانو نوی مشر او یا هم د طالبانو د قطر دفتر غړي څه ډول داپریکړه وکولای شي چې د پاکستان تر فشار لاندې په ناکامه ځلوراړخیزو ناستو کې د سولې خبرو کې ګډون وکړي، او که بالفرض طالبان همدا کار وکړي، د طالبانو نظامي مشران او د طالبانو پلویان به بیا څه ډول پر خپلو مشرانو اعتماد وکړي، هغوی چې وایي د خپلو پخوانیو مشرانو (ملامحمد عمر مجاهد او ملااخترمحمد منصور) لاره تعقیبوي او د پاکستان فشار ته نه تسلیمیږي.
زما په اند چې پاکستان یوځل بیا له افغان حکومت سره د سولې مذاکراتو په نامه د ډیورنډ مسئله مطرح کوي، او داځل به د ډیورنډ پر کرښه د نورو موانعو، دروازو او تاسیساتو غوښتنه کوي، که افغان حکومت د ډیورنډ مسئله کې همدا ډول بې پروایي وکړی لکه تیر ځل، نو دابه د پاکستان سره د ډیورنډ کرښه په رسمیت منل وي.
افغان مهاجرین پاکستان ګروګان نیولي چې کله هم پر پاکستان نړیوال فشارونه زیات شي، ددې لپاره چې حساسیتونه کنټرول کړي افغان مهاجرین ځوروي، په اوس وخت کې پاکستان کې افغان مهاجرین د افغان حکومت د نا سمو او غلطو تګلارو قرباني دي، او د پاکستان لخوا بیا افغان مهاجرین د ډیورنډ کرښې لپاره قرباني کیږي، که افغان او پاکستان حکومتونه د افغان مهاجرو اړوند په خپلو تګلارو کې مثبت بدلون رانه ولي، په راتلونکې کې به دواړه هیوادونه دغه سیاسي تیروتنه جبران نه کړي.
افغان او پاکستانی ولس یو بل سره ستونزه نه لري، تر ډیره د سیاستوالو د غلطو او ناسمو تګلارو قرباني شوي دي. افغان او پاکستان حکومتونو ته په کار ده چې د خپلو ولسونو ګټو ته په کتلو سره د افغان مهاجرو اړوند تګلارې خپلې کړي. د سیاسي کړنو، ګټو او تګلارو پر ځای د خپلو ولسونو ملي ګټو ته ترجیح ورکړي، که خدای مه کړه افغان – پاک حکومتونه د افغان مهاجرو او ډیورنډ اړوند بې پروایي کوي، نو دواړه حکومتونه به د خپلو ولسونو له غبرګونو سره مخ کیږي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ